مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: اقبال انصاري

ژباړونکی: دوکتورعبدالخالق رشید ۲۰۲۲/۰۸/۱۴

# وروستنی پټآن

## د جهانسي جنګیالی ملکه او ورسره مل پښتانه جنګیالي

## (تاریخي ناول)

## اتمه برخه



لیکوال:
اقبال انصاري
ژباړونکی:
دوکتورعبدالخالق رشید
نوی ډیلی : ۲۰۰۲ کال
ډالۍ
دهغوپښتنواومسلمانواتلانوپه نامه چي دهند دآزادۍ پرلامل یی په ۱۸۵۷ کي لویي کارنامي دهندوستان تاریخ ته پرېښودې چي اوس یي یاد یوازې په کیسواوحماسوکي ژوندکوي!
پروفیسور رشید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ



(۱۱)

ساګرسینګ سهار وختي دځلورنیموبجوپه شاوخواکي له خپلولسوملګروسره په ډیرې بیړې په داسې حال کې چې باران اوریده د راولي پرلور روان شوی و.دهغه جاسوس هغه ته خبرورکړی و چې رانۍ لکشمي بايي په خپله په بروا ساګر کې ځای پرځای اوديره شوې ده،هغه پردې خبره وه چې ساګرسینګ خپل کورته راستون شوی اوپه خپل کورکې دی، هره شیبه چې وغواړي کولای شي هغه ونیسي .همداوه چې زرترزره یې ځان ددې له پاره تیارکړچې بایدله خپلوملګروسره له دغه ځایه ځان وباسي. خپل دمامازوی یې په کورکې پرېښی واوهغه ته یې وویلي وو چې دی دللت پورپرلور حرکت کوي، په داسې حال کې چې داسې یې ونه کړل دوی دللت پور پرځای د ګهنسي ځنګل لاره ونیوه اوترهغوچې رڼاکیده دوی ځنګل ته ځانونه ورسول،خوباران هم لا وریده.
ساګرسینګ اوس ځنګل ته وررسیدلی و،چې پرهغه اودهغه پرملګروباندې قیامت راجوړشو، له هغې اودغې خوا له ونو پردوی باندې درانۍ بندیلي اوپټانوپوځیانوخپه پرې ور وړې وه،مخکې تردې چې چاته پته ولګیږي، پوځیانو هغه را جاپیرکړي ورته ناست وو، نورپوځیان هم د ونوله شاووځخه پرې راووتل اوټول ډاکوان یې سره محاصره کړل.
ساګرسینګ خورا تکړه اولوړقامتی پیاوړی سړی و،هغه پوره هڅه وکړه چې دهغه سړې له منګولوځان پریوه خواکړي، هغه چې دی را ګیرکړی و، خودا کاراوس دده له پاره ناشونی و، هغه ډیرکوشش وکړ چې خیل لاس دهغه سړي له منګولودومره خلاص کړي چې ترملاتړلې تومانچې پورې یې و رسوي،خودایوه هم ونه شوه،ګل محمد دی داسې سره را ټینګ کړی و، چې ځان یې هم ونه شوخوځولای.
رانۍ دګڼ بوټي له څټه پرخپل آس سپره راووته اوپرګل محمدیې ږغ وکړ:
ـ شاباس کنورګل محمده!
اوټول ډاکوان په رسیو سره تړلي د رانۍپه مخ کې ودرول شول، رانۍ څو شیبې هغوسړي وژونکو ته په ځیرڅیر سره وکتل او له سربښورولو وروسته یې وویل:
ـ دا ددې وطن بدمرغي ده ، چې اوس دلته جنګیالي اوتوریالي راجپوت په ډاکواولارو وهلوباندې شپې ورځې سره تیروي،هغوی چې باید بې اسرې اوناهیلي یې له ظالمانواو سړي وژونکو څخه ژغورلي وای، هغوی چې تل به له بدمرغیوسره جنګیدل ،هغوی چې تل یې دنورودسراومال ساتنه اوژغورنه خپله دنده بلله اونن هغوی پر دې اخته دي چې خلك وځوروي اوډاکې واچوي.
له دوی غله اوداړه مارجوړشوي،ظلمونه کوي ،په هرخواکې په همدغه یوه ناوړه کاربانده اخته دي اودخلکودمال اوځان دښمنان شوي دي .تا اوستا ملګروته به داسې سخته سزا درکړه شي ،چې ستا لیدونکواوستا سې دکارنامو اوریدونکو ته یودرس شي.
درانۍ له دغو خبروورووسته ساګرسینګ وویل:
ـ مهارانۍ جي ، څه چې کوې هغه وکوه، ته واکمنه یې، یوازې دومره وایم چې ددغه ټاکور خبره هم اورې که نه ؟
رانۍ په ترخې لهجې سره ورته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- وایه...
ساګرسینګ په داسې حال کې چې په آواز کې یې یوڅه درد ښکاریده وویل:
- مهاراني جي ، زما کورنی له اوږدې مودې را په دې خوا دراجا ناګپال په پوځ کې وه، موږ چې کومې ډاکې کولې هغه مودخپل مال اوځان دساتنې له پاره کولې،خووروسته بیا خبره داشوه چې راجا ناګپال له ګریزانوسره دوستي پیل کړه،دانګریزانوپه غوښتنه یې ټول ټاکوران سره یویوکړل اوپه پای کې یې ټول له دندواومنصبوځخه په یوه خواکړل،له موږ سره چې لږ ډیرڅه وو،هغه انګریزانوله موږه واخستل اوخپلوغوړمالانوته یې ورکړل. هیچاهم زموږ وانه وریده ، له چا مو چا ته سرټکولی وای ؟ هیڅ ځای اوقانون ته زموږغږنه رسیده،زموږ په رسیدلو فصلوکې انګریزانوپه ښکارپسي خپل اسونه خغلول، راجا ناګپال هم هیڅ و، په هرلوري کې یې ټول جاګیروال او جاګیرونه پای ته رسولي وو،اوټول هغوی چې ذمه وارول هغوی دانګریزانو نوکران شوي وو،په ولاړو فصلو کې به یې په خپلوانګریزي بادارانوباندې ښکارونه کول اوخوړل ،موږ دخپلو دغوخلکوله پاره راپورته شوو،پرموږ باندې لوړې اومړیني یوه پربله پسې راغلي، موږ ناچارشوچې باید په ډاکواولاره وهلو باندې لاس پورې کړو. ته خپله مهاراني جي پوښتنه کولای شې چې موږ تراوسه پورې په یوه ځای کې هم کوم غریب اوخوارمزدور نه لوټلی اونه موبې ګناه څوک وژلی دي ،موږ یوازې هغه سیټان اوشتمن لوټلي اووژلي چې هغوی دانګریزانوپه اشاره اودهغوی دغوړمالی له پاره دبې ګناوو خلکو ویني تویې کړې اوزبیښلي دي.
دراني په ځیره کې ګردسره یوبدلون راغی اوآوازیې نرم شو:
- ما نا داچې تاسې دانګریزانوپرخلاف وسله پورته کړې وه...
ساګرسینګ یوسوړاوسیلي وکیښ او ویې ویل:
- له ماسره دومره وسله چیرې ده چې زه پرهغې باندې دانګریزانو پرضدلاس په کارشم،له ماسره دومره خلك چیرې دي چې زه دې دهغوپه مرسته له انګریزانوسره لاساوګریوان شم.
راني ، له ځان سره (هون) وکړ، اوپه سوچ سره یې وویل:
- سمه ده زه به شیبې وروسته له تاسره نورې خبرې هم وکړم ...اوسپاهي ته یې مخ ور واړاوه ورته ویې ویل:
بویې څه....
سپاهي ساګرسینګ له ځان سره روان کړاو ولاړ، په کوټې کې یوازې راني ، دیوان رګهونات سینګ، کنورګل محمد، مندراوموتي بایې پاتې وو. راني ټول مخاطب کړل اوورته ویې ویل:
- ستاسې رایه په دغه باره کې څه ده ؟
ګل خپلې خبرې داسې سره پیل کړې چې تابه ویل ان مخکې یې دڅه ویلو نیت درلود:
- مهاراني صاحبې، تاسې خپله واکمنه یاست، خپله باداره یې اوموږ تابعدار، وروستۍ پریکړه ستا ده ، موږ په دې پوهیږو چې ستا فیصله زموږ ټولوله پاره دمنلو وړده،څه چې ته وایې موږ به هغه عملي کړو. څه چې ستاخیال اورایه ده هغه عملي کړه ، خو زه فکرکوم او په دې باوریم چې که ساګرسینګ ته یوڅه وخت ورکړشي دابه ښه وي ...
راني صاحبې هغه په خپل پوځ کې ونیسه ،دراجپوت بچې دی، درغلي نه درسره کوي،اودسربښندنې په ډګرکې هم په اتلولۍ سره خپله دنده ترسره کوي،میړنی هم دی ، جهانسي دخپل پوځ له پاره داسې میړنیوته اړتیالري،نوره نودمهاراني صاحب خوښه.
اوراني دهغه هره خبره په غورسره ځیرله او اوریدله ، له هغه وروسته یې رګهونات سینګ ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل چې:
- دیوان رګهونات سینګ ته څه په کې وایې ؟
- مهاراني جي،زه دکنورګل محمد نظرتاییدوم...
رګهونات سینګ په خوراادب دخپلو خبرو لړۍ داسې اوږده کړه:
- زه هم په دې نظریم چې ساګرسینګ ته دسزا ورکولو پرځای دالاره چاره برابره شي چې له خپلو سپاهیانوسره یوځای دراني په پوځ کې برخه واخلي،داسمه ده چې هغه ترننه پورې ،نه خواران اوغریبان لوټلي اونه یې ځورولي دي ،یوازې لوږه اوناچارۍ ددې لامل شوې چې له ده یې ډاکواولاره وهوونکي جوړکړی دی. زماهم رایه داده چې هغه ته باید یوچانس ورکړه شي.
راني داخل خپل مخ په خندانه ځیره موتي ته وروا ړاوه اوویې ویل : - زما دموتي په دغه برخه کې دویلوڅه لري ؟
موتي وویل:
- مهاراني صاحبې، ساګرسینګ وړی لیوه دی اودغه وړی لیوه بیاکشتریه (جنګیالی ) هم دی،اوانسان هم دی .هغه ځلورو ځیزونوته اړتیالري ،چې هغه عزت، مینه ، ډوډۍ اوساتنه دي...
چې داځلورځیزونه مهاراني جي هغه ته ورکولای شي،ستادغه ناځیزه وینځه هم دکنورګل محمد خبره ګردسره مني چې هغه په ریښتیادسربښندنې په کارکې پرشاراتلونکی نه دی . دیوان صاحب رښتیا وایي ساګرسینګ ته باید وخت ورکړو.
راني مندر ته مخ ور واړاوه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مندرته څه ویل غواړې ؟
شوخي اوښایسته مندرترډغه مهاله پورې په خپله سنجیده ګي سره پوره تیاری نیولی و.
ـ ساګرسینګ ته په ښبنې سره ډارنه وربښل کیږي بلکې هغه په دغه کارسره عزت ترلاسه کوي، یوکشتري (جنګیالی ) ترهرڅه دمخه دعزت وړی وي، ته هغه ته عزت ورکړه ، زه باورلرم چې هغه به تاته خپل ځان درکړي .په زخم اوتپ باندې خودهغه پروا هم نه شته، کنورګل محمدخان ربنتیاوایي.
دمندردخبرې له پای ته رسیدو سره سم رانی مندرته وویل:
ـ ته وګوره چې ډوډۍ تیاره ده که نه ؟
مندر دباندې ووته،له لنډې شیبې وروسته بیرته راوګرزیده اورانی ته یې وویل:
ـ ډوډۍ تیاره ده، په هغه بله خونه کې یې اینبودل روان دي.
رانی ګل کنورګل محمدته سروښوراوه اوورته ویې ویل:
ـ کنورګل محمده ساګرسینګ اودهغه ملګري ټول راوله.
ګل محمد وویل:
ـ څه چې مهارانی صاحبه وایې ترسره کیږي.
اوخپل لاس یې په سینه نیولي له خونې ووت.
یوه شیبه وروسته ساګرسینګ اودهغه ملګري د رانی په مخکې ودریدل ،دهغوی لاسونه دهغوی ترشاووکلك تړلي وو.
رانی خپلو ملګروته اشاره وکړه:
مندر،موتي بایي،رګهونات سینګ اوګل محمد ټول سره راوړاندې شول ،دټولولاسونه یې سره خلاص کړل،هغوی ټول پټه خوله وو، اوپه پټې خولې سره یې دې ته سترګې نیولي وې چې اوس څه کیږي ؟ کله یې چې دټولولاسونه ورخلاص کړل،رانی ټولوته وویل چې هلئ دباندې ولاړشئ خوله اولاسونه وومینځی اوډوډۍ خوړلوخونې ته بیرته زرراشئ چې ټول دلته ډوډۍ یوځای سره وخورو، په دې چې موږ ټول ډیروږي یو.تاسې هم وږي شوي یاست،مندراوموتي دواړوته لارښونه شوې وه چې لاسونه یې وروميځئ اوډوډۍ له پاره یې بیرته کوټې ته راولي .
لس دقیقې وروسته ، هغوی ټول مخامخ پرځمکه په دوکتاروکې کیناستل اوپه ګډه یې ډوډۍ په خوړلوپیل سره وکړ، دا د دوی ټولوپه ژوند کې خورا مهمه ورځ اوخاطره وه ،هلته له دوی سره دجهانسي رانی مهالکشمي بایي یوځای په ځمکه باندې ناسته وه اوپه ګډه یې ډوډۍ ورسره خوړه .هغه ډوډۍ چې ټولو خوړه، کدو، انجه ،کورکمن لرونکي ارد دال اوپه تبۍ پخې شوې ډوډۍ.
وقت اپني کو جاویدان کرر هاتها
تاریخ خودکوتحریرکرر هي تهي
ډوډۍ خلاصه شوه،خورانی بیاهم له ټولوسره په میلمستون کې ناسته وه ،داځل له رانی سره په میلمستون کې درانی پرملګرو برسیره د ساګرسینګ لس ملګري هم وو.
هغې په دغه مهال کې ټولوته په ځیرځیرسره وکتل اوورته ویې ویل:
ـ زه دلته نوره نه شم پاتې کیدای، ترشپې دمخه زه باید جهانسي ته ور رسیږم ،څوشیبې په فکرکې شوه او بیایې ساګرسینګ ته مخ ور واړاوه او ویې ویل:
ـ ټاکرساګرسینګه زه ستا اوستا دټولوملګرولپاره دعزت اوخوشاله ژوند اوسرلوړي مرګ له پاره وخت درکوم . داپه تا اړه لري اوته خپله هم پوهیږې،او کیدای هم شي...زما په فکرتاسې له ننه وروسته نورډاکوان نه یاست .زما مطلب دادی چې ته ترهغه وخته ډاکو نه یې ترڅو چې بیا غلا ته ملا ونه تړې، له ننه وروسته ته زما ملګری یې ، اوترهغو به وې ترڅوچې زه ژوندی یم، اوترهغوپورې چې ته بیرته خپلې پخوانی دندې ته نه وې ورګرزیدلی .زماپه پوځ کې تاته هرکلی وایه شي، خو دې ته دې پام وي چې زه تاته کومه تنخوا نه شم درکولای .اونه یې نورچا ته ورکوم،یوازې هغه عزت درکول کیږې کوم چې ټول یې اوس دلته لرئ، ډوډۍ به هغسې در رسیږي لکه چې نوروته ور کول کیږي اولکه چې زما نورپوځیان یې خوري .اوس خپل کلي ته بیرته ولاړشه، په لاره کې ښه سوچ وکړه،مشوره وکړه. زما په پوځ کې داخل شه ، له ماسره لاس یوکړه اوله انګریزانو څخه ځان لرې وساته، له عزت سره ژوند ته غاړه ورکړه اوله همداسې دویاړ اوسرلوړۍ سره مرګ دځان ویاړ وبوله . ترمابنامه پورې موږ دلته یو که دې خوښه شوه راځه چې ګډ جهانسي ته سره لاړشو، سره دوستان شو، اوسره ملګري...
درانی دخبرو له پای ته رسیدو سره سم ساګرسینګ اودهغه لس ملګري د رانی په پښوکې ولویدل،هغوی ټولو ژړل،په چغوچغویې ژړل ،اودخوښۍ اوښکې د هغوی ټولوله سترګورا روانې وې دهغوی دغه حالت اوکرپه خپله دا ټکی په ګوته کاوه چې دوی که د رانی په قدموکې لویدلې هم دي، دوی فکرکاوه چې ګواکې
اسمان ته ختلي اویوه لویه لوړتیا یې موندلې ده، خو رانی دهغوټولوپرسرونوباندې خپل لاس راتیرکړاودا دوی ته په ډاګه داسې یوه خوشالي وه چې فکریې کاوه دوی ته بل ژوند ورپه برخه شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د رانې پرېښوباندې له لاس لګيدو وروسته هغوی دراولي پرلور وخوځيدل خوترلمړدوبيدودمخه هغوی ټول بيرته له کلي څخه راستانه شول،دوی يوازې هغه يوولس تنه راستانه نه شول بلکي له دوی سره دری نورهم راغلل چي هغوی هم خپل سرونه رانې ته دهغې په وړاندې په درناوي سره ټيټ کړل.
رانې دهغوی پرسروهم لاسونه راتيرکړل اودغه کوچني پوځ د جهانسي پرلورحرکت وکړ. ټپي خدابخش هم له دوی سره و، ساګرسينګ ورمخ ته شودواړه لاسونه يې ددرناوي په توګه ورته جوړه کړل اوپه خورا پښيمانۍ سره يې ورته وويل:
_ما وبښئ کنورصاحب ، هو، ما...
خوکنورخدابخش په خورا ځيرکی سره ورته وويل:
- ټاکرساګرسينګه ! که تا غوندې کسان زمونږ له مهارانۍ سره يوکيږي زه په خپل ټول ژوند کې دهغوبښلواودرناوي ته تيار اوحاضريم.
- زه ستا له دغې ښښني څخه منندوی يم کنورصاحب ،
ساګرسينګ دخدابخش پښوته ځان ټيټ کړ اوخدابخش هغه په خپله غيږه کې کلك ونيو...
)۱۲(
دکيتان ډنلپ اولفټننت موريس ويليم دوژلوخبراسکين اوګاړدن ته رسيدلی واودواړو خپل غاښونه سره کرچولي وو، دواړو داسره غوټه کړې وه چي دجهانسي نارينه،ښځې اوماشومان به يويوترتيغ تيروي .خودم ګړی يې سترګو داښوده چي ګواکي اوس په جهانسي کې ددې خبرو وخت لانه دی.
انګريزي ماشومان اوميرمني اوس په کلاکي درانې په منګولو ترساتنې لاندې وو، دوی ته داخبرهم رارسيدلی وچي انګريزي ماشومان اوميرمني اوس په کلاکي دننه پوره خوندي وو،رانې هغه ځای ته چي هلته انګريزي ميرمني اوماشومان ساتل کيدل خپلونارينه چوپړيانواونوکرانوته د ورتلو اجازه نه ورکوله، دوی ته داپته هم وه چي رانې ددغه کارله پاره کنورګل محمد ټاکلی اودهغوی دخوندي ساتنې دنده يې هغه ته سپارلي وه خوچي ټولوپناه اخيستونکوته هرډول اسانتياوې لکه په خپل وخت ډوډی اونورې برابرې کړي، اوهم هغوی بايد له هرډول زيان رسولوڅخه په امن اوخوندي وي.
اسکين اوګاړدن دواړو ته اوس داهم معلومه شوې وه چي په جهانسي کوم انګريزي ماشومان اوميرمني پاتې دي ،له هغوی ټولوسره اوس دجهانسي داوسيدونکو پوره خواخوږې اوترحم مل دی. هغو دواړو انګريزي افسرانو ته داهم څرګنده وه چي که په دغه حال کې دوی کوم داسي ناوړه ګام دجهانسي والاپه وړاندې پورته کوي ، نو په دې کې شك نشته چي ددوی ددغې وړې تيروتنې اونه سنجول شوي ګام پورته کيدو په ترڅ کې به په جهانسي کې ديره ټول انګريزان يوهم دژوند څکه ونه کړي.
خلك يوڅه ته غوږ په آواز وو،که چيرې خلك په پاريدنو باندې لاس پورې کړي داخوڅرګنده وه چي هغوماشومانواوميرمنو ته چي تراوسه هم درانې سره ووخطراو زيان رسيدل خامخا وو. په دې چي دهغوی ترقابولاندې راوستل هم درانې له واکه دباندې وو ځکه نوکله چي اسکين اوګاړدن د ډنلپ اوموريس ويليم دوژلو واوريدل دوی هم ځانونه آرام ونيول.
اسکين د ګاړدن په اوږه لاس وتپاوه اودتسل په ژبه يې ورته وويل:
- ګاړډنه ، فکرمه کوه ، وار راځي ، زمونږهم راځي ، ډيرزر به راشي...
اسکين داخبره يوازې دګاړدن دتسل په خاطرنه کوله بلکي دخپل تسل په خاطريې هم کوله.
دريمه ورځ کميشنراسکين ته خبررا ورسيد چي رساله دارکالې خان له خپلوملګروسره دډيلي پرلورخوځيدلی دي .دا مهم اودآرامئ وړ خبرو، دخوښي خبرو، داخبردهرانګريز له پاره يوزيری په دې وچي ددغه خبر په اوريدوسره ټولوانګريزانودآرامئ ساواخيسته،ټول انګريزي ماشومان اوميرمني بيرته خپلوکورونوته راغلل ،په خپلو کوروکې يې په وتونوتوباندې پيل وکړخوله له احتياط سره.
يوه ورځ سهاراسکين ته خبرراورسيد چي دجيل په مخکي له لارويو انګريزانو څخه يوڅوک چاپه ګولی ويشتلی اووژلی يې دی ، ويل کيږچي ګولی هم له جيل څخه را چليدلي ده.
داسکين دصبرکاسه ډکه شوه،هغه ګاړدن خپل کورته راوباله اوهغه ته يې وويل چي يوڅه خوبايد وکړو...
ډپټي کميشنردخپل امرخبره ومنله او ويې ويل:
- هو، صاحب،زمونږ له پټي خولي څخه دغو هندوستاني سپيوزمونږ دصبرکاسي را ډکې کړې...
دواړو ځانونه جيل ته ورسول.
پيره دارانوهم دهغوی ښه سم هرکلي وکړ، دروازه يې ورته پرانيسته اوورته داخوا اخواشول.
دواړه ورننوتل، پرته له دې چي دسپاهيانوسلاميواودرناويو ته ځواب وواېي،په مړوڅتواوسروسترګودانګړمنځ ته ورسيدل، دجيل دپراخ انګړ په زړه کې ټول بنديان په کتاروکي ناست وو،بخشش علي بندوان يوې خواته ولاړ و،دجيل له مرستيال ټاکررام کهلاون سينګ سره يې خبرې کولې اودوی ټولو ديوه برهمن ست نارائن کيسه اوريده .اسکين اوګاړدن هلته ورغلل،برهمن چوپه خوله شو، ټولو بنديانو دغودواړو انګريزانوته کتل.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

ـ بخشش علي بنديوانه !يوچا له جيله پرپيتروواتکسن ګولی چلولي، هغه بې وژلی، دا وڅوك ؟
بخشش علي په خورا ډاډ سره ورته وويل:
زه ، ما پيتروواتکسن وواژه، افسوس چې دهغه بټلربچ شواووتښتيد...
اسکين اوګارډن دواړه حق حيران ودريدل، هغوی ته ديوه هندوستاني له خوا داسې ځواب اودهغه له خوا داسې بې پروايي په پوره توګه دنه منلوچلن و.
دبخشش علي دغې ژبې اودهغه دغې لاپروايي ددواړوانګريزانو په غوږ وکې انګازې اوچتې کړې، دواړو دپوره خطراحساس وکړ... خوبياهم پرناوخته شوی و،مخکې تردې چې هغوی دواړه له خپلو ملاوو څخه خپلې تومانچې را وباسې تردوی دمخه بخشش علي خپله تومانچه په ماشه کړی اوپردوی را برزوهل:
ـ لاسونه پورته کړئ ،
هغوی دواړه په خوراسړې لهجې سره وويل:
ـ ته پوهيږې چې موږ څوك يو؟
اسکين لاهم زور واهه اونه غوښتل چې ځان کمزوری وښيي.
خومخکې تردې چې دی اسکين ته ځواب ووايي دهغه مرستيال ټاکر رام کهلاون سينګ ورته رامخته شو،داسکين له خولې سره يې يوه درنه څپيړه ملګرې کړه اوورته ويې ويل:
ـ سپينه يږه،دا دجهانسې جيل دی،دلته يوازې دبنديوان بخشش علي امرچليږي،دهغه له ويلوپرته نورڅه نه ويل کيږي اونه بايد وويل شي.
د دنګ اواوچت پهلوان ډوله ټاکررام کهلاون څپيړه دومره پياوړې او درنه وه چې پرهغې له لويدو اوبيرته راپورته کيدو وروسته اسکين ته دا څرګنده شوه چې يوه ډوډی خوپتيرې کيږي ، معنا داچې له هغې وروسته يې سد سرته راغی اوپه دې پوه شو چې ډيټې بنديوان ده ته دا څپيړه ورحواله کړې وه ، دهغه زامه سره کړچيدله اودسرپه واسطې يې دخپلو ګواښونوڅرګندونه کوله.
په هرډول دهغو دواړوانګريزانوځيرې ګردسره سپينې اوښتې وې ، خو اسکين زيات ډارشوی و.
ټاکررام کهلاون سينګ رامخته شو، ددواړو انګريزانو له ملاووڅخه يې تومانچې راوايستې اوپه خپل قابوکې يې ونيولې اوبخشش علي ته يې وويل:
ـ شيخ صاحب تاسې ته موهغه خپله بې عزتي درياد ده چې دغو سپينو يږو له تاسره وکړه؟
بخشش علي په خورا سړې ژبې سره وويل:
-هو رایاده ده،خپله تومانچه يې په خپل کمربند کې وتومبله ، را وړاندې شواوهغه دواړه انګريزان يې ترخپلو لغتولاندې واچول څه ناڅه ترلسودقيقوپورې هغوی« نو.. پليز ... نو، دخدای له پاره ...» کوکې اوچغې وهلې ،خو چې دواړه له اخ وتوخه ولويدل ،اوبې سده شول،بيايې خپله تومانچه له خپلې ملا را وايسته ، دواړه يې سره يو يوکړل اوپه دواړويې خپلې ګولی وچلولې لومړی په اسکين اودويم پرګارډن! ...

پاتې لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ